سردارمحمد همدرد

۲۰۱۷/۰۴/۱۸

# په غم لړلی وطن د اوښکو کيسي

د دي وطن دردونه دومره ډير دي چي په مسجدونو کي هره ورځ د غم کمبلي هواري وي يو غم لا خلاص سوی نه وي بل غم شروع سي په مجلسونو کي ټولي د مايوسي د غم او وير خبري کيږي په ښار کي هم د خلکو په خوليد خندا څه نه ليدل کيږي داسي کور دي نه وي چي پر کور يې د غم کمبله نه وي هواره سوي يواځي نه دا چي لويان مو غم ځپلي دي بلکه د عزت حياء او پت ډکي تورسري او پيغلي چي چا يي پلو هم نسو ليدلی، نن پر لويو سړکونو ولاړي او د خيرات لاس يي اوږد کړی وي، تنکي ماشومان مو هم ببر سرونه او لڅي پښي فقر کوي.
نن مي د خپلو دوو بچيانو بلال احمد او نبيل احمد سره پارک ته ولاړم او دامي ددوي حق وبلی چي دوی بايد زه پارک ته بوځم ځکه چي دا د ماشومو هيلو غوښتنه وي چي تفريحي ځايونو ته يي بوځو زه هم ددوي د حق د پوره کولو لپاره د لښکرګاه ښار مرکزي پارک چي د بابا ملت په نوم ياديږي ورغلو په پارک کي تر ګرځيدو مخکي بلال جان او نبيل جان د جوس غوښتنه وکره او وروسته مي په پارک کي د ماشومانو د لوبو لپاره په کرځنده زانګو کي دوي ګرځول چي يو نازک ماشوم راښکاره سو ماشوم چي ډير وړوکی وو ښکلی او ښايسته وو يو ژړه بوجی يي په شاه کړي وه او په ماشومانه لهجه يي وويل کاکا لس روپی راکه
د ماشوم د اواز په اوريدو او دده په ليدو دي حالت ته چي مي وکتل،په خدای تاثير يي راباندي وکړ، ماشوم مي ښکل کړ جوس مي ورته راوغوښت، د بلال او نبيل سره څنګ په څنګ په زانګو کي مي کښينوی او پوښتنه مي ورځخه وکره بچيه! سبق وايې؟
ماشوم په ماشومانه لهجه راته وويل چي پلار مي مړ سو.
اوس مي مور سبق ته نه پريږدي ما ورنه پوښتنه وکره پلار دي چا مړ کړ؟
ماشوم په خپله لهجه وويل:
پلار مي مين راله مړ کي.
نو ماشوم د خپل ژوند ټوله کيسه راته وکره لنده داچي ماشوم بی پلاره او بی سرپرسته وو،مور يي دی مجبوروی چي هم لرګي او هم خاشي راټولي کړي تر څو په کور کي اور پري بل کړي او هم د خلکو څخه پيسي وغواړي
د ماشوم کيسه ربښتيا هم دردوونکي وه او چي ربښتيا ووايو زما د سترګو نه هم دده پر حالاتو اوښکي توی سوی.
ربښتيا چي موږ ډير غم و ځپلو په نوره دنيا کي خلک پارکو ته د طبيعت راستګی لپاره ځي دلته په پارکونو کي هم د غمونو څخه نه يو خلاص،ددي وطن ښار او کلي دواړه ماښامونه په اوښکو سره تيروي، چي ربښتيا سي تر ټولو لومړی مي د وطن هغو مشرانو ته ښيرا وکړه چا چي د واک او قدرت لپاره ددی مظلوم ملت په سرنوشت لوبي کړيدي او د ټوپک د شپيلي په زور يي د خپل زړه د خواهشاتو لپاره هر ناروا عمل کړيدی،چي بيت المال يي د ځان نه دی بللی، د مظلوم ملت حق يي خوړلی دی د وطن سره يي مينه نه ده کړي يواځي يي وخت ددي دپاره تير کړيدی چي پيسي جمع کړ،ښه کور جوړ که د واک او قدرت نه سوآ استفاده وکه او د خپل ځان،کور او ماشومانو لپاره د خوښيو ډک ژوند وغواړه او نور که په دي ملت کيدغسي بی سرنوشته ماشومان ګرځي دوي يي پروا نلري او د خپل هغه رب نه مي چي ډير باانصافه او عادل دی ددوي د نابودی غوښتنه وکره.
زه نه غواړم چي زما ليکنه سياسي سي ځکه چي دا زما د زړه درد دی خو خبره داده په دي وطن کي چي څه روان دي پر پردو هيڅ خبره نه کوو پردي به خود زموږ وطن خرابوي.
افغانه تاته وايم تا ددي وطن سره څه وکړه!
يو وار د روس په مقابل کي امريکا وجنګولو اوس د ګاونډيانوپه شمول اروپا، امريکا، روس او چين د ټولو د لوبو مرکز يو او يو پر بل ټاپي وهو يو مسلمان او بل کافر بولو يو ددي وطن خواخوږی اوبل تروريست کړو، اخيري نتيجه مو دا سي چي وطن وران ټوکر ټوکر کړو بيا د هغه چا په خوله چي تر ننه مودښمن بللي بيا د هغه په خوله ټوپک واخلو او خپلي جګړي ته حق ووايو هغه څوک چي بيا پر کابل حکومت کوي او ځان ددي وطن اصلي وارثان بولي بي غلا او چور نه بل کار نلري قانون يواځی پر مظلوم او بی چاره تطبيق کيږي.
عدالت او انصاف کده کړي وي بيا نو يوه خبره راسره ومنی راځئ چي ځان ته پيغور ورکړو بيا نو موږ او تاسی د کوم تاريخ خبره کوو ته چي د ميرويس نيکه او احمدشاه بابا خبري کوي هغوی پر ډهلي او تهران حکومت کاوه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

موږ او تاسي دا خپل کوچنی جغرافیه نسو ساتلی د دنیا ټول لنډغر او زوروز زموږ په سرنوشت لوبي کوي موږ ته نور شرم په کار دی.
دوستانو راځخه خفه کیږی مه ځکه چي حقیقت ونه وایو او خپلی نیمګړتیاوی ونه منو او د افغانستان مسؤلیت د افغانانو ونه بولو، ددې روان ناورین څخه ځان نسو ساتلی
زه هم د دولت پر مشرانو او هم د طالبانو پر مشرانو ږغ کوم چي د خدای روی ته وګوری پر دي ملت نور رحم وکړي دا ملت له ډیر بد حالت څخه تیریږي دا ملت ستاسي څخه نه سرکونه اونه د مؤسیسومرستي غواړي یواځي دي ملت ته سوله ورکړي.
پدې ملت کي دا جوهر سته چي دوډی پیدا کړي او هیچاته به د مرستي لاس ونه غځوي دا چي نن دا ملت د فقر نه تیریږی دا ستاسي دلاسه او یوحقیقت هم ومنی چي ډیر څه د قدرت او جاه و جلال لپاره تر سره کیږي نه د ارزښتونو لپاره.
راځی چي خدای ته توبه وباسو ټول د ټاپو نه خلاص افغانان جوړ کړو په یو نامه بل نامه ځوک بدنام نکړو او پدې وطن کي د سولي اواز پورته کړو.
طالبانو ورونو ته وایم:
ورونو! د یو افغان په صفت په خدای ستاسي په غم هم دردیږو راځئ چي د سولي لار خپله کړو راځئ چي د ولسواکی په زور خپل حق وغواړو نه د ټوپک په زور. که تاسي داسي وایاست چي په افغانستان کي شرعي نظام غواړو، ستاسي سره یوځای به اولین افغان زه یم شرعي نظام به غواړم ځکه چي موږ ویلی دي تر څو چي حد او قصاص جاري نسي تر هغو موږ عدالت نسو تامینولی ځکه چي دا د پروردګار قول دی او پروردګار تر هر چا عادل دی.
موږ درسره یو ، راځئ د انتخاباتو له لاري داسي ریس جمهور او پارلمان ته داسي وکیلان ولیږو چیهغوی د شریعت غوښتونکي وي ځکه چي دا واقیعت دی چي د افغانستان ولسونه شرعی نظام غواړي . مولانا فضل الرحمن چي په پاکستان کي د مذهبي پارتی له لاري سیاست کوي تاسي هم داسي وکری
هو یوه خبره په ایمانداری درته کوم چي په واقیعت اسلام مبارک دین زموږ د ژوند په چارو کي چي څومره عملي کیږي موږ د خیر خواته ځو. د جهاده منکر نه یو او په جهاد باور لرم ځکه چي دا د الله تعالی قول دی خو اوسنی څه چي روان دي دا هغه خطرناکه لوبه ده چي د افغان مسلمان د غیرتي ولس د غرور د ماتولو لپاره هر څه ترسره کیږي ددې جګړي ډیره ګټه د افغانستان او اسلام دښمنانو ته رسیږي زموږ خیر په سوله کي دی او که بیا چیري د ولسواکی په زور تاسي چا حق ته نه پریښودلاست پدې مطمین یم چي ددې ملت لویه حصه به ددوي پر ضد او ستاسي پر طرفداری اواز پورته کوی.
په وروستیو کي ستاسي د یو دردمن افغان په حیث ږغ کوم راځئ په یوه اواز د سولي اواز پورته کړو
زه پر هغو خواخوږو او چي په دې وطن یي زړه خوږیږي ږغ کوم ، راځی چي ټول ددې دپاره لاس په کار سو هم د دولت هم د طالبانو سره خبري پیل کړو چي یوبل ته قناعت ورکړو او دا مجلسونه د هر ډول خارجي مداخلو څخه خلاص او بین الافغاني مجلسونه جوړ کړو که داکار ونکړو نور به هم غلامان او د پردیو په طمعه به تر دې نور هم ذلیله سو په پای کي د ټولو دوستانو څخه مي غوښتنه داده چي زما دا پیغام ټولو مسؤلینو ته ورسوي زما پدې پیغام کي د یو دردمن افغان درد دی.
پدې لیکنه احساساتي کیږی مه لږ غور پري وکړی زه خپل د زړه درد د درویش دراني پدې بیتونو رانغاړم.
درویش درانی وایي:

ما خپله توره کړه د ورور په زړه کي ماته خدایه
چـي دښمن راغی زه په دوه لاسه وم پاته خـدایه
چـي زه وم ونـــه دوی د اور لـمبـي راوبـلـلـي
چـي زه ایـره سوم دوی خـبـر ورکړ هواته خدایه
ښی لاس مي پروت و د سیني پر ژور زخم باندي
د مجبوریه مي کین لاس پورته کړو دعا ته خدایه
زه د جـانــان تــر تکو سرو شــونډو ونــه رسیدم
دا د نــن کــار خـــو رانه پــاته سو سباته خـدایه

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ